ارادہ

د افغان نفراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

سال سوم شماره چهل و هشتم
شماره ء مسلسل ۱۲۸
سه شنبه ۲۰ حوت ۱۳۸۱ هـ . ش
۸ محرم الحرام ۱۴۲۲ هـ . ق
11 March 2003

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

اعلان موجودیت کرد

جبهه ملی دموکراسی افغانستان

جبهه ملی دموکراسی افغانستان قبل از ظهر دیروز طی محفلی در هوتل انترکانتیننتال کابل اعلان موجودیت کرد.

در این محفل که با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید توسط قاری برکت الله سلیم آغاز گردیده شماری از مسوولین و نماینده گان احزاب، سازمانها و نهاد های اجتماعی معتقد به دموکراسی ، عده یی از اعضای کابینه، سفرا و دیپلومات های کشور های خارجی مقیم کابل اشتراک ورزیده بودند.

در بیانیه افتتاحیه این گردهمایی که به وسیله محترم طارق احساس به خوانش گرفته شد آمده است.

جبهه ملی دموکراسی افغانستان زمانی تشکیل می یابد که جامعه جهانی به شکل بی سابقه ای تصمیم به باز سازی و کمک افغانستان را گرفته است، ولی یابد که ازآن جمله میتوان ازفقدان یک نیروی فعال،

عدم حضور نیروهای دموکرات در بدنه دستگاه اداری کشور باعث اختلافات در پیشبرد پروسه باز سازي و نو سازی کشور گردیده است.

اجرای درست و بهره برداری لازم ازین فرصت پیش آمده مستلزم ایجاد نهاد های مدنی دموکرات، سیستم سالم اداره حکومتی و حضور فعالانه مردم بوده که متاسفانه طی یک سال گذشته با موجودیت انحصار طلبی، فساد اداری، نا رسایی سیاسی، عدم تخصص کاری، عدم تحمل، زور گویی و تسلط فرهنگ خشونت نتوانست تحقق منسجم و متشکل دموکرات ملی در لویه جرگه گذشته اسم برد که نه تنها نتایج لویه جرگه را بر خلاف توقع اکثریت مردم رقم زد بلکه عدم حضور نیروهای دموکرات در بدنه دستگاه اداری کشور نیز باعث اختلافات در پیشبرد پروسه باز سازی و نو سازی کشور گردید.

سپس محترم را مزپور گزارش مختصری را در رابطه به چگونگی تکوین جبهه ارایه داشته گفت:

دیموکراتان له هغو مبارزو څخه الهام اخلي چې د افغانستان په تاریخ کې د روښانفکره او دیموکراتو خواکونو په تېره بیا د مشروطیت د خوځښت او د دیموکراسی د لسیزې له مثبتو پېښو څخه را منځ ته شویدي.

البته چې د نویو ملي او نړیوالو شرایطو په پام کې نیولو سره یې د جبهې جوړښت ته لاس غځولی دی چې د لوی خدای (ج) په مرسته یوی مدني ټولنې ته د رسیدو. د اساسي حقونو د تامین او بشري حقونو د رعایت تر منزلې د افغانستان له ټولو اوسېدونکو سره ملګري وي او له نړیوال پرمختګ سره یو خای خپل ملت د نیکمرغی او هوساینې لورو خوکو ته ورسوي.

بقیه ص ـ ۴

له کابل ښاروالی سره ترون

دلوړې پر ضد نړیوال سازمان د کابل له ښاروالۍ سره یو ترون لاسلیک کړ.

ددغه ترون تر مخه به دغه سازمان د کابل ښار لپاره د پاکو اوبو د برابرولو او د ښار د چاپیریال په پاک ساتلو کې له کابل ښاروالی سره مرسته وکړي.

دغه سازمان همدا شان ویلي چې دوی به د کابل په ښار کې د صابون جوړولو یو کارخانه جوړه کړي چې د راستنو شویو کډوالو لپاره به پکې د کار زمینه برابره شي. ددغې پروژې ټول لګښت دوه سوه زره ډالره اټکل شوی چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداره به دا لګښت پرې ګوي.

پنځه نوي فیصده کوکنار له منځه وړل شوی

د هلمند والي ویلي چې : دوی په دغه ولایت کې د کوکنارو پنځه نوي فیصده کروندې له منځه وړي دي.

ددغه ولایت والي ملا شیر محمد آخوند زاده ویلي چې که چېرې پاتې کروندګر ددوی د کار مخه ډب کړي نو دنقدي جریمې تر څنګ به زندانیان هم شي.

ده هیله څرګنده کړې چې ډېر ژر به په دغه ولایت کې پاتې کروندې هم له منځه یوسي.

کمیسیون مبارزه با مواد مخدر. گزارشات سازمان های بین المللی را رد می کند

کمیسیون مبارزه با مواد مخدر وابسته با دولت افغانستان گزارشات شماری از سازمانهای خیریه بین المللی و آژانس های خبری در رابطه به بلند رفتن میزان تولید تریاک در افغانستان را رد نموده افزوده است که تا حدی زیادی جلو کشت. خاشخاش در این کشور گرفته شده است.

کمیسیون مبارزه با مواد مخدر این اعلامیه را درواکنش با گزارشاتی اظهار نموده که در آن سطح تولید تریاک در افغانستان بلند تر از سال قبل نشان داده شده است.

مسوولین دولتی مبارزه با مواد مخدر در افغانستان زمانی گزارشات افزایش تولید تریاک در افغانستان را رد می کنند که در شماری از ولایات این کشور دهقانان و زمینداران در اعتراض به نداشتن امکانات کافی برای کشت جای گزین کوکنار مجدداً به کشت کوکنار رو آورده اند.

آماده گی سفیر ایالات متحده امریکا

سفیر ایالات متحده امریکا در کابل اعلام کرد که کشورش حاضر است تا بخاطر ساختن بندهای برق و ساختمان توربین های گازی تولید انرژی برق با وزارت آب و برق افغانستان همکاری کند. سفیر ایالات متحده امریکا بروز یکشنبه در کابل گفت که کشورش حاضر است در تامین وجوه مالی تمدید لین برق از حیرتان به کابل نیز با دولت افغانستان همکاری کند.

د AF. پسوند افغانستان ته وسپارل شو

د AF . په نامه پسوند د انترنیټ په نړیواله شبکه کې د UNDP په مرسته افغانستان ته وسپارل شو.

د انټرنیټ په نړیوال جال کې به ددغه پسوند ثبت په دغه شبکه کې د افغانستان د رسمي پېژندنې په معنی وي.

په کابل کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي سازمان مشر په سمبولیک ډول د AF . انخور د افغانستان له بیرغ او د UNDP له نښې سره یو ځای د افغانستان د مخابراتو وزیر معصوم ستانکزي ته سپارلی دی.

مکن اندیشه، بسیار و کم را خدا دور داشته باشد درد و غم را

بهرنی مهم خبرونه

د آلمان محکمې څلور کسان بندیان کړل

د آلمان یوې محکمې څلور کسان په دې تور بندیان کړي چې په شمال ختیزه فرانسه کې په بمې جاودنه کې لاس درلود.

دغه چاودنه د یوه مارکیټ نه دباندې شوې وه چې ګڼ کسان یې وژلي او تپیان کړي و.

دوی ته دلسو کلونو څخه تر دولسو کلونو پورې د بند سزا ورکړل شوه.

دا څلور واړه کسان چې د الجزایر اوسیدونکي دي په دوه زرم میلادي کال د آلمان پولیسو پرداسې مهال نیولي چې وسله او نور چاودیدونکي مواد هم ورسره وو.

څارنوالانو په دې کې پاتې راغلي چې آیا دا څلور کسان له القاعدې سره اړیکې لري او که نه.

یک وزیر کابینه تونی بلیر را تهدید کرد.

یکی از وزیران حکومت آقای تونی بلئیر صدر اعظم انگلستان را تهدید کرده است که اگر کشورش به همراهی امریکا بدون موافقه ملل متحد وارد جنگ علیه عراق شود از سمت خود استعفا خواهد داد.

کلئیر شارت وزیر امور انکشاف بین المللی به رادیو می بی بی سی گفته است که تخطی از قوانین بین المللی و در مخاطره قرار دادن سازمان ملل متحد را تحمل کرده نمی تواند خانم شارت که عضو حزب کارگر به رهبری تونی بلئیر می باشد موقف کنونی انگلستان در مورد عراق را که احتمال جنگ علیه رژیم بغداد در آن دیده می شود یک بی اعتنایی عمیق توصیف کرده است.

دلویی او بیبوګی خدای په نامه

سرمقاله

کابل، شهر حریم ها

متاسفانه، آرزو های بلند و انسانی مردم، در هوای وصلتی به رفاه، توسعه و دموکراسی، در مقایسه با یک سال پیش، بنا بر دلایل مختلفی رنگ باخته به نظر می آید و حتا به سختی میشود. قبول کرد که آنان (مردم) به روی باور های خوش دیروزین شان، همچنان استوار مانده باشند.

اگر دلواپسی های ناشی از ریزش بطی مساعدت های وعده داده شده را برای توسعه، رفاه و باز سازی کشور، از سوی جامعه امدادگر که جانب خارجی قضیه میگردد، به یکسو نهیم. در بعُد داخلی نیز. به دور از ظواهر، چونان حرکتی جمعی نجات دهنده، که بتواند جامعه را از فراز چالش های موجود، به ساحل مقصود، عبور دهد. کمتر مشهود است و اگر احیانا محسوس است، بیشتر فردی و پراگنده و خال خال است.

کشور زمانی ره به جایی خواهد برد و کم از کم به سوی رفاه و بر پایی یک جامعه مدنی وایده ال گام برخواهد داشت، که دلسوزی و ایثار رهبری را با خود داشته باشد، نه اینکه رهبری لاخبر از سمت و سوی باد. تنها برای جان بدر بردن خویش از ورطه در اندیشه باشد" و از مردی همان شینگی را برگزیند که گریز است".

مگر حریم های که با جال های خار دار و دیوار های بلند آهنین و چک های ریخته شده از کانکریت و چوب بندی هاییکه، در گوشه و کنار کابل بر پاست، نمی تواند مبین این نکته باشد که رهبری بیشتر به خود می اندیشد، تا برای دیگران که مردم اند؟

مگر حریم های که برای عبور مصوون و آرام خود از جاده های شهر گاه و بیگاه میسازند، نمی تواند مبین فاصله، آنان از مردم، تا سرحد به هم زدن نظم زنده گی مردم در عبور و مرور، باشد؟

مگر ممکنست خزیده در میان لاک ها، درد های بی پایان مردم را، برای مداوا، اندیشه کرد؟

در موجودیت چنین حالتی، چگونه ممکنست رفاه و توسعه و دموکراسی سراغ ما را داشته باشند، یا اینکه آرزو های شیرینی که یکسال قبل پخته بودیم، به یأس مبدل نگردد؟

دموکراسی خواست مردم

قوانین اساسی: قانون اساسی سنگی است که در تهداب حکومات دموکراتیک گذاشته می شود یا به عباره دیگر حکومات دموکراتیک روی آن بنا می یابند. قانون اساسی تعهد رسمی در رابطه با وظایف، حدود، صلاحیت ها، اجرات وساختار اداری حکومات می باشد. قانون اساسی یک کشور بلند ترین و مهم ترین سندی است که تمامی اتباع آن کشور از (ملا تا عامی) از رئیس جمهور تا کارگر عادی یکسان تحت احکام وشرایط آن قرار می گیرند.

قانون اساسی از جای یک سند معتبر دارای فصول جداگانه کم از کم صلاحیت های حکومات ملی و اساسات رعایت وتحفظ حقوق بشر را ضمانت کرده، خط ومشی، تحلیف و روش حکومات را تعیین می نماید.

با وجود مشخصات مهم برای بقای قوانین اساسی باید قابلیت تغییر و اصلاح را داشته باشند. قدیمی ترین نسخه تحریری قانون اساسی، قانون اساسی ایالات متحده امریکاست که دارای هفت فصل و بیست وشش ضمیمه می باشد. این سند تحریری با آنکه اساسی برای تصامیم قضایی، منشور ها، صلاحیت های رئیس جمهور و ساختار بسیاری مسایل کلیدی دیگر طی دوصد سال اخیر بوده تا حال پا بر جا باقی مانده است.

بخاطر انکشاف و تکمیل قوانین اساسی دو نظریه وجود دارد: یکی این که راه مشکلی بر گزیده شود که طی آن بر داشتن گامهای بسیاری ضرورت می افتد به طریقی که از افراد زیادی در زمینه پرسش های بعمل آمده و بشکل ریفرندم یا همه پرسی نظریات مردم جمع آوری شده و بعداً تغییراتی وارد آید نتیجه این شیوه اکثراً کمتر باعث وارد ساختن تعدیلات یا انکشافات جدید در قانون اساسی می گردد. تنها در صورتی این طرز العمل موفق بوده می تواند که اکثریت بزرگ مردم خواهان چنان تغییراتی در قانون باشند.

طریقه ساده، استفاده از ضمایم است که اکثراً کشور ها از آن استفاده می نمایند، به شکلی که بر ضمیمه جدید توسط قوای مقننه یا شورای قانون ساز تصویب شده و سپس طی نظر خواهی یا تایید، مجالس ملی پشتیبانی و تائید مردمی را کسب نموده می توانند. قوانین اساسی که با استفاده از این طریق قابلیت تغییر وانکشاف را دارا اند طویل و دارای خصوصیات و شرایطی اند که با ساختار قوای مقننه تفاوت اند کی می داشته باشند.

نا گفته نباید گذاشت تنها قانون اساسی در سطح جهان که تا اکنون بدون تغییر و تبدیل و انکشاف باقی و پا برجا مانده است قانون اساسی ایالات متحده امریکا می باشد که در قرن هژدهم میلادی تحریر و به تصویب رسیده است.

آنکه (جان، پ، فرانگ) متخصص قوانین اساسی می نویسد:

در هیچ گونه حالاتی دولت ها حق ندارند که اصول نا برابری را بر مردم تحمیل یا عملی نمایند، بلکه دولت ها باید با تمامی اتباع شان یکسان و برابر بر خورد نمایند.

هیچکسی نباید بالاتر از قانون پنداشته شود زیرا تمامی مردم از لحاظ آفرینش با هم برابر اند و هیچ چیزی با اعمال زور بالای شان قبولانده نشده است اتباع دموکراسی این قانون را پذیرفته و به آن گردن نهاده اند. این گردن نهادن غیر مستقیم به شخص خود است چرا که آنها خود طراح و تصویب کنندگان قانون اند. زمانیکه قانون بدست مردم وضع شود. آنها خود مجبور اند که آنرا قبول و رعایت نمایند و به این ترتیب از قانون و دموکراسی هر دو حفاظت و خدمت بعمل آمده می تواند.

ادامه دارد

باتور

تالاشیو او تفتیشونو نور ستومانه کړي یو

د تیرو څلرویشت کلنو جنګ جګړو څخه را ولاړ وشوو ناخوالو او نادودو او د بهلابهلو واکمنو قوتونو او څواکونو لخوا راز، راز، تفتیشونو او تالاشیو زمونږ هېواد وال ددغو نومونو څخه دکرکی تربریده بیزاره کړی، او سخت حساسیتونه یې را پارولی دی.

دغه تفتیشونه او تالاشی په تیرو کلونو کې په بهلابهلو رنګونو راڅرګندی شویدي، خو که په هر رنګ وؤ، د عقایدو د تفتیش، د تذکرو او کارتونو د تفتیش د لباس د اغوستلو په څرنګوالی تفتیش او یا په هره بله بڼه چې را څرګند شوی د خلکو کرکه یې راپارولی او خلکو په ښکاره یا پټه ددغو تفتیشونو او تالاشیو په وړاندی خپله کرکه څرګنده کړیده.

اوس، اوس دغه تفتیش په لویو لارو کې په تیره بیا د کابل، تورخم، په لاره کې خورا خواشینوونکی او خورونکی دی. دا منو چې د سرحدی پولو څخه د تلو او راتلو په وخت که د سفر د اسنادو څارنه او لیدنه وشی او که دهغو شیانو څارنه وشی چې مسافر یې د خانه سره لیږدوی، نو دا کار دې وشی خکه دا کار په هر خای کې معمول دی، خو د یوه ولایت په سیمه کې په دریو، څلورو خایونو کې تالاشی او یا هم دیوه ولایت څخه بل ولایت ته د تګ په وخت کې تفتیش او تالاشی هغه هم مسافرو د توهین او تحقیر تر کچې، د زغملو وړ نه بریښی.

د جلال آباد ښار ته د ننوتلو په وخت کې هم وی، چې په دی توګه دلاری ټوله ستومانی او سترپا یوی خواته، او ددغو وسله والو پاچاهانو او واکدارانو تفتیشونه او تالاشی بلی خواته، چې په ښکاره د تفتیشونو د ناروا تله به د منزله او سفر دستومانی څخه درنده هم وی، خکه هغه جسمانی سترپا او بوج دی، خو دا تلاشی او تفتیشونه د سړی په روح او روان بوج راولی او روحائي سترې او ستومانه کوی.

د امنیتی دلایلو له کبله په اوسنیو شرایطو کې د تالاشیو بیخی له منځه وړل معقوله خبره نه بریښی، خو د بی ځایه او بی موردې تالاشیو له منځه وړل، تفتیش او تالاشی ته د نظم ورکول او مسافرو سره انسانی او اخلاقی برخورد بیا معقوله او پرځای خبره او غوښتنه ده، چې مور هم د امنیتی چارواکو او مسوولینو څخه همدا غوښتنه کوو.

د امنیتی دلایلو له کبله په اوسنیو شرایطو کې د تالاشیو بیخی له منځه وړل معقوله خبره نه بریښی، خو د بی ځایه او بی موردې تالاشیو له منځه وړل، تفتیش او تالاشی ته د نظم ورکول او مسافرو سره انسانی او اخلاقی برخورد بیا معقوله او پرځای خبره او غوښتنه ده. چې مورږ هم د امنیتی چارواکو او مسوولینو څخه همدا غوښتنه کوو.

پدې وخت کې د درونټی تالاشی، هغه مسافر تالاشی کوی چې یو ځل یې د پلچرخی ځوانو او سرمستو تالاشی چیانو، عزت نفس ځپلی وي، ښه بد، بد یې ورته کتلی وی او د متهمانو او مجرمانو په څیر یې بیا ورته د موټر څخه کوز شه امر ورکړی وی او بیا یې جیبونه او بدی هم ورته مزه د باداری اکټ هم کوی.

بیا وروسته د درونټی د تالاشی او د سرخرود د دوه سرکی ترمنځ واټن ټول ټال دری، څلور کیلو متره نه دی، چې بیا هلته موټر درول کیږی او بیا تفتیش پیل شی، د کومه راغلی؟ چیرته ځی په دی پاکټ کې څه شی دی او په دی بکس کې څه شی دی؟ هغه پوښتنی چې پنځه دقیقی مخکی په درونټه کې د مسافر څخه شوي وی، او دوه، دری ساعته مخکی په پلچرخی کې عین خبره د ننګرهار څخه کابل ته د راتګ په

روښان

په یا رغونو سوچ وکړو نه په یا ورانولو

په هغه مادی امکاناتو او نقده ډالرو چې تیر کال د بهرنیو هېوادو لخوا د کوکنارو دکر کیلي د مخنیوی او دله منځه وړلو لپاره زمونږ سره مرسته وشوه، ونه توانیدو چې د کنارو دکرلو مخنیوی وکړو، نو اوس به په تش لاس او نسیه وعدو په دی وتوانیږو چې دا کار ترسره کړو؟

دا هغه پوښتنه ده چې د مخدره موادو پرضد د مبارزی د کمیسیون درئیس دهغی وینا څخه وروسته رامنځ ته شویده، چې په دی وروستیو کې یې ووېل:

مورږ سړکال د بزګرانو لپاره دهغوی د کوکنارو د کښتونو دله منځه وړلو په بدل کې نقدی پیسی نه ورکووؤ خو په سیمو کې د بیا رغونی پروژی تر کار لاندی نیسو چې خلکو ته د کار کولو زمینه برابره شی، تر څو هغوی وکولای شی په دغو پروژو کې په کار کولو سره د خان او خپلو کورنیو ژوند تأمین کړی.

خلکو ته کار او روزګار پیدا کول، خلک له بیکاری څخه ژغورل معقوله او پر خای طرحه ده، او په پوره یقین سره چې د ښاغلی رئیس موخه ددی خبری څخه هغه خلک دی چې د ډیر خمکو او لږ خمکو بزګرانو سره یې د کوکنارو د کرلو، وهلو او د محصول د راټولولو په برخه کې کار کاوه او د خمکه والو لخوا به په کار ګمارل کیدل، خو دلته لومړی خبره د خمکه والو ده، چې دوی څرنګه دیته وهڅول شي ترڅو پخپلو خمکو کې کوکنار ونه کری او دهغی پر خای نور شیان وکری، او بنه حاصل هم د خمکی څخه واخلی.

بزګران به هېڅکله دیته زړه نه ښه نکړی چې خپلی هغه خمکی چې کلونه، کلونه یې په هغی کې کرکیله کړی پریږدی. او په پروژو کې په کارونو بوخت شي، دهغوی سره د مرستو ډیری نوری لاری، چاری شته، چې هغوی د کوکنارو نه کرلو ته وهڅوی، چې دهغی جملی څخه د اصلاح شووؤ راز، راز تخمونو ویشل، د کیمیاوی سری ویشل، د اوبه خور بیا احیا او جوړول، د اوږده مهال قرضونو ورکړه او د مالداری او خینو نورو برخو کې د بزګرانو سره مرسته.

خو که د تیر کال د پیسو هغه ویش ته چې په هغو بزګرانو چې کوکنار یې اړول شوی وؤ، باید ویشل شوی وای وګورو، نو بیا سړکال کوم داسې تضمین وجود لری چې دا مرستی او یا پروژی به بیا دسیمه ایزو ټوپک سالارانو او واکدارانو لخوا په بده ونه وهل شی، او پیسی او مرستی به یې د دوی لخوا چور او تالان نشی.

په ولایتونو کې په تیر کال کې د پیسو او ډالرو تالان او په بده وهل، د خلکو او بزګرانو بی باوری او عدم اعتماد دی حد ته رسولی دی، چې په هېڅ صورت کې بیا حاضر نه دی، چې آزمویل شوی بیا و آزمائي، او د بلی خوا بزګران په ډاګه دا وائي چې د خانانو راکړه نوکرانو په لاره کې ووهله، نو د خانانو تشی وعدی به مورږ ته څه راکړی، او که څه را هم شی نو بیا هماغه دیګ دی او هماغه تیپر، سړ کال یې بیا کوکنار کرلی او په دی خبره بیا هم تینګار کوی چې زمونږ ستونزی په پام کې ونه نیول شی او مورږ سره لازمی مرستی ونشی مورږ د مجبوریتونو له مخی بیا هم کوکنار کرو.

په دی برخه کې د ولایتونو او سیمه ایزو واکدارانو، ګوت څنډنو او درکو هم څه مثبته پایله نه درلوده، او نه به هم څه نتیجه ورکړی، خکه نه په زور کلی کیږی، او نه هم زور او د زور خبروته څوک سر نیتوی، د زور ویلو پر خای به ښه وی چې د بزګرانو خبری واوریدل شی، د هغوی د ستونزو په هکله فکر او سوچ وشی او بزګرانو سره دهغوی د ستونزو دلری کولو او حل په لار کې د هر اړخیزه مرستو لاری چاری ولټول شی، خکه بی له شکه چې د ټوپک او وسلو په زور، جبراً په بزګرانو باندی د نړیوالی ټولنی غوښتنه به نه دا چې بنه پایله له خانه سره ونلری بلکه کیدای شی ډیری نوری سیمه ایزی ستونزی رامنځ ته کړی او خوار او بی وسه بزګران به غبرګون ته وهڅوی، چې دا به بیا یوه بله ستونزه او کړکیچ وی، او د ټولو ته اهمه او د سوچ کولو خبره داده چې مورږ د بیا رغونی په لور روان یو، نه د بیا ورانولو په لور، نو دولتی چارواکی او سیمه ایز واکداران دی هر څه د ټوپک او وسلی په زور نه ترسره کوی.

صحت برای همه

متصدی صفحه: حسیب الله نوری

ماشومان ولی له تیاری نه ډاریږی

د ځینو ماشومانو ډار له تیاری څخه د دوی دوالدینو د تصور په خلاف چې وایي دا ماشومان د پاملرنی د جلبولو په خاطر داکار سرته رسوی، کیدائ شی د ماشومانو د شب کوری له املې وی. ځیرونکی وایي چې دا ډول ناروغی ډیره لږده او کلك روغتیایی تشخیص ته ارتیا لری. د ډیرو خلکو سترګی وروسته له لنډی مودی څخه له تیاری سره بلدیږی، خو د ځینو ماشومانو سترګی چې ظاهراً له هېڅ ډول ناروغی څخه شکایت نه کوی او په نورانی محیط کې ښه لیدل کولای شی، له تیاری سره ماشوم تل له تیاری څخه شیانو سره لګیده. دغه ماشوم نیمه شپه د خوب نه پاڅیده خو د پلار او مور د خوب کوتې ته نشوای تلای هغه دغه راز له سیوری څخه ډیر ویریده. ډاکټرانو وموندله چې ددی ماشوم په مور او پلار کې دغه ناروغی موجوده وه دغه ماشوم ته به تل څراغ ورکول کیده او د خوب خونه به یې تل روښانه وه "کوردون داتون" د سترګو د ناروغیو متخصص وایی چې د ماشومانو د شپې نا بینایی کیدای شوی په دوی کې ډیر ډار او وحشت رامنځ ته کړی نومورې ډاکټر وایی چې دا ناروغی باید ښه تشخیص شی.

دی وایي: چې دوه ډوله د نابینایی ناروغی په ماشومانو کې شته. د یوه دری کلن ماشوم مور او پلار چې خپل ماشوم یې ډاکټر ته وړی وایی: چې له یوی خونی نه بلی خونی ته په مشکل سره تلای شوای.

او دوهمه ډول ناروغی دیوی ماشومی نجلی وه چې تل په تیاره کې ویده کیده او په تیاره کې لیدل شوی دی. دا ډول ماشومان د ناروغۍ په لومړیو کې د ډاکټرانو لخوا د ستونزو په توګه ارزول کیږی. ځکه چې دوی د ډاکټرانو سره د خپلو ستونزو د څرګندولو توان نه لری. د ډاکټرانو په وینا د ماشومانو د سترګو د ناروغیو ډیرې ډولونه شته چې ځینې یې ډیر خطرناک دی. د ماشومانو د سترګو ډاکټران وایی: چې د ماشومانو د سترګو ناروغۍ د ماشومانو د ودې په پروسه کې د ډیرو ستونزو لامل ګرځی. د ماشومانو د سترګو ډاکټران وایی: چې د ماشومانو د سترګو ناروغۍ د ماشومانو د ودې په پروسه کې د ډیرو ستونزو لامل ګرځی. د ماشومانو د سترګو ډاکټران وایی: چې د ماشومانو د سترګو ناروغۍ د ماشومانو د ودې په پروسه کې د ډیرو ستونزو لامل ګرځی.

په خوړو کې باید کمښت راولو

د بی بی سی راډیو د انټرنټی ویپسایټ له مخې نړیوال روغتیایی سازمان ټینره اونۍ په یوه رپوټ کې چې د نړۍ د ډیلابیلو هېوادونو د پوهاند له خوا لیکل شوی دی اعلام وکړچې داضافی خوړو له کبله ډیر کسان په چاغی یا پنډوالی اخته شوی چې د ډیرو ناروغیو لامل هم ګرځی او د نړۍ له خلکو څخه یې غوښتی چې دهغو خوړو څخه چې ډیر غوړ، قند او مالګه ولری ډډه وکړی او په استعمال کې یې کمښت راولی.

دغه راز په دی راپور کې ویل شوی چې د ډیرو ناروغیو د علاج او درملنی ډیره ښه لار د ډیرۍ میوی او تازه سیو خوړل دی.

چې د مزمنو ناروغیو مخنیوی کولای شی. پوهانو نوی وړاندیزونه د سالمو خوړو لپاره وړاندی کړی چې کیدای شی پوهان هغه دیوی نړیوالی ستراتیژی لپاره وړاندی کړی څو چې د کولای شی د زړه سرطان، دیابت، پنډوالی او د غاښونو د ناروغیو یوه اندازه مخنیوی و کولای شی. پوهانو دغه راز ویلی چې د مزمنو ناروغیو لامل یواځی د یادوشوو خوړو استعمال نه دی بلکی کیدای شی چې د ناسالمو خوړو په استعمال کې زیاتوالی هم دهغه یو عامل وی. هغوی دغه راز د خلکو د ژوندانه د سبك بدلون یو عامل ګڼی ددی لپاره چې د کورنیو غړی لږ له یو بل سره کینی او په یوه د سترخوان ډوډی سره وخوری او ماشومان ددی پر ځای چې په آزاده فضا کې لوبی وکړی د تلویزیون په لیدو بوخت وی چې دا هم د ناروغیو ستر لامل ګرځیدلای شی.

سالم خواړه چې نړیوال روغتیایی سازمان یې پیشنهادوی هغه دادی:

* ـ کار بو هایدریدونه (طبعی نشایسته او قند) باید له ۵۵ فیصدو نه تر ۵۷ فیصدو پوری د خوړو برخه جوړه کړی.
* ـ شیرینی یا خواړه شیان باید له لسو فیصدو څخه لږ د خوړو برخه جوړه کړی.
* ـ د خوړو رژیم باید له لسو نه تر پنځلسو فیصدو پوری پروټین ولری.
* ـ غوړ باید له پنځلسونه تر دیرشو فیصدو پوری وی.
* ـ د سبو او میوو خوړل باید د ورځی څلور سوه ګرامه وی.
* ـ پوهانو دغه راز ویلی چې جسمی فعالیت د روغتیا لپاره ډیر ګټور دی دغه رپوټ څرګندوی چې خلك باید د ورځی حداقل یو ساعت جسمی فعالیت ولری. دغه رپوټ دغه راز زیاتوی چې په نړۍ کې څه نا څه یو میلیارده کسان په پنډوالی اخته دی. چې له دی ډلی نه دری سوه ملیونه کسان د پنډوالی ناروغی لری، دغه حالت په ماشومانو کې هم لیدل کیږی. او د بریتانیا په هېواد کې یو پر پنځمه برخه ماسومان د اضافه وزنی سره مخامخ دی. تیم لنګ د لندن د پوهنتون د خوړلو د پروګرام استاد د نړیوال روغتیایي سازمان دغه رپوټ تائید وی او وایی چې په انګلستان کې سم نیمایی د زړو ناروغی کمولای شو که چیری د مالګی استعمال نیمایی نه را تیټ کړو هغه وایی لازمه ده څو چې ټولو خلکو ته د پخولو لاری چاری ورزده شی.

کمبود خدمات صحی در افغانستان

بلند ترین رقم وفیات نوزادان، کودکان و ولادتها در سطح جهان به افغانستان مربوط می شود. از هر هزار کودک، ۱۶۵ آن در حالت نوزادی و ۲۵۰ آن پیش از رسیدن به سن پنج سالگی میمیرند در حالیکه از هر صد هزار مادر ۶۴۰ نفر آن در هنگام ولادت جان های خود را از دست میدهند. قابل یاد آوری است که بین سه تا چهار فیصد تمام افغانها معیوب یا معلول می باشد. دسترسی به خدمات صحی در چنین حالتی بیشتر از پیش اهمیت کسب می کند.

جلوگیری از اعتیاد



به اثر تحقیقات که امریکا اعلام نموده است. یک دوره کوتاه نوشیدن شراب میتواند انسان را به سرطان مبتلا سازد.

تحقیقات مذکور که بالای حیوانات انکادارد. نشان داده است که معتادین الکول بنابر همین دلیل به سرطان جگر، سینه وجهاز ها ضمه مبتلا می شوند. به گفته یکی از استادان پوهنتون دولتی اوهایو، به اثر افراط در شراب نوشی میزان تخریب الکول درخون انسان بالاتر از 0/2 فیصد یا حتی بیشتر از حد مجاز آن میرسد.

موصوف می گوید: میزان بلند ترکیب الکول در خون عواملی را نا بود میسازد که در تنظیم مصئونیت بدن نقش قاطع دارند همین عوامل اند که موجودیت عنصر بیگانه، وجود انسان را بطور طبیعی نا بود میسازد و بنام قاتلین طبیعی یا حجرات آنکا یاد میشود. نقش حجرات آنکا این است که در سراسر مجاری، خون را کنترول کرده و حجرات سرطانی و ویروس ها را پیدا کرده و نابود میسازد.

واضح است در صورت نابودی حجرات آنکا حجرات سرطان آزادانه به سراسر وجود گردش کرده و در هر نقطه بدن که بخواهد میتواند جا بجا شوند.

نتایج تحقیقات موفقیت آمیز بوده و در گذشته دانشمندان تحقیقات بالای حجرات سرطان را در تست تیوپ انجام میدادند، اما استاد یاد شده از وجود موش بحیث تست تیوپ کار گرفته است.

طی همین تجارب به اثبات رسیده است که سرعت انتشار حجرات سرطانی در موش های که الکول برای آنها داده شده بود چهل مرتبه بیشتر از موش های است که الکول به آنها داده نشده بود اما حجرات سرطان داشته اند.

منابع صحی بین المللی میگویند که در سال دو هزار و بیست تعداد اندازه مرگ و میر ناشی از دخانیات در جهان به بیش از بیست و پنج فیصد خواهد رسید وی با اعلام اینکه تعداد اطفال سگرتی در جهان طی پنج سال گذشته سی فیصد افزایش یافته است گفته است: که سن این اطفال بین هفت تا ده سال بوده است و هنگامیکه این اطفال تاسن بیست سالگی میر سند به انواع مریضی های مختلف از جمله تکالیف مجاری تنفسی و ایدس مبتلا خواهند شد و بنا بران زود تر از سن طبیعی شان جان می سپارند. باید حکومات درین مورد تجاویزی اتخاذ نمایند تا از میزان مرگ و میر اطفال و نو جوانان جلو گیری بعمل آید.

منابع میگویند: فامیل های که به علت بی بند و باری، پسران و دختران نوجوان شانرا از کشیدن سگرت مانع شده نتوانسته اند اخیراً با ترس از شیوع بیشتر مضار سگرت دست به دامان حکومات متبوع شان برای جلوگیری از اعتیاد به دخانیات زده اند.

بی تخصصه ډاکټران باید کتنی ترسره نه کړی

درنو لوستونکو! د اختر په ورځو کې د خپل یوه دوست سره مخامخ شوم چې له روغتون څخه راغلی و. کله مې چې تری وپوښتل په روغتون کې دی څه کول نو ویل یې چې ناروغ مې درلود. د نومورې نوم نور عالم و. چې د فارمسی پوهنځی په دریمه ټولګی کې یې زده کړی کولی. ده ویل چې زما د کور یوه ښځینه ناروغه وروسته له دی چې د سیمی یوه ډاکټر درمل ورکړل د مرګ تر حاله ورسیده. نور عالم زیاته کړه چې نومورې ډاکټر هم کتنی ترسره کړی او هم یې درمل له خپل درملتون څخه ناروغ ته ورکړل. په لومړی سرکې زما پام نشو څکه زه د خپل ناروغ لپاره پریشانه وم خو کله چې مې وروسته دهغو درملو تاریخ وکوت نو هغه وخته ختم شوی و. او کله مو چې ناروغ کابل ته راووست نو د روغتون ډاکټرانو ویل چې هغه درمل چې ستا ناروغ ته ورکړ شوی دهغی ناروغی لپاره نه و. چې ستا ناروغ پری اخته و. نو څکه د ناروغ حالت خراب شوی و.

نور عالم وایی چې نه یواځی ددغه ښاغلی ډاکټر له لاسه چې نوم یې اوس نه وایم خو خپله دی پوه شی زمونږ اختر له غمه ډك شو بلکی تر کابله راتګ، د درملو او کرایو مصرف او نوری ډیری سرګردانی هم زمونږ د کورنی ټولو غړو ته رامخ ته شوی. ښاغلی نور عالم وایي زما هیله نه یواځی له دغه ډاکټر څخه بلکی له ټولو ډاکټرانو څخه دا ده چې د ناروغ په کتنو کې او د ناروغی په تشخیص کې پوره پام وکړی. ښاغلي نورعالم وایي هغه ډاکټر چې زما ناروغ ورته وروړل شوی و. د کابل د طب له پوهنځی خځه نوی فارغ شوی او تخصص یې لانه دی اخستی نو څکه باید ده کتنی نه وای ترسره کړی. دی په دی هکله ځان هم ملامتوی چې ولی یې دغه ډاکټر ته ناروغ وروستلی حال دا چې د فارمسی په پوهنځی کې لوست هم کوی خو ده وویل چې ما ګمان نه کاوو دغه ډاکټر صاحب دی دومره ناپوه وی چې زما د ناروغ حال داسې کړی.

ارادہ

اگوی یار می آید نسیم باد نوروزی

جشن های بزرگ آریایی از متن طبیعت بیرون کشیده شده اند. به حیث مثال جشن نوروز، که روز آغاز برابری شب و روز و آغاز فرا رسیدن فصل شگوفایی و بهار است. و این جشن اگر به روز تاجپوشی. جمشید پیوندی هم نگیرد و کسی هم آن را نخواهد به گرامیداشت بخشیند، عملاً بر پا خواهد بود. زیرا آوان مساعدت آب و هوا برای کار در باغستانها و کشتزار ها از اینجا آغاز می یابد. یعنی در این فصل جنبش و پویایی نه تنها در انسان ها، بلکه در همه‌ء جانوران و گیاهان و در مجموع در طبیعت جاری میگردد.

به همین گونه جشن مهرگان نیز در طبیعت تجلیل میگردد. افزون بر دیگر گونی های زیبا که چونان بهاران در این موقع طبیعت را آذین می بندند، این جشن نیز با پرداختن بزگران به کشت پاییزی و فراهم آوری واپسین حاصلات از باغها و کشت ها و آغاز اندوختن آذوقه، برای سپری کردن زمستان، به گونه‌ء طبیعی در زنده گی انسان ها بر گزار میگردد. جشن سده‌ء که شب نگاه دهم بهمن ماه بر پا میشود نیز با طبیعت بی پیوند نیست. این جشن که همزمان با شکستن یخ ها و آغاز چهله‌ء خورد زمستانی که پس از آن با تابش آفتاب از زمین های نمناک بخار بر می خیزد، بر رو رویداد های بزرگ که در درازای زمانه ها بر اندیشه و روان این ملت دیرینسال اثر گذاشته اند، نتوانسته اند، این جشن ها را از متن زندگی آن ها بزدایند و شاید امروز هنوز با نیرومندی دیرین خود ادامه داده می شدند و در این تداوم دو عامل نقش برجسته داشت:



نخست اینکه زردشتیان همانند سایر ملل در سراسر گیتی جشن های ملی خود را بر پا میدارند و در میان ملت های دیگر جهان کمتر جشنی را سراغ داشته باشیم که اینهمه با پیشینه و باستانی باشد.

پس از گسترش دین مقدس اسلام در سرزمین های آریانای کهن، بخشی بزرگ از رسم ها و آیین های نیاکان ما، بر پا داشتن آن عنعنات و مراسم خود که با مبادی اسلام در تقابل قرار نمی گرفتند، آزادی تام داشتند و حتی مسلمانان نیز در این نواحی در اجرای مراسم با آنها همراهی میکردند و در جشن ها، بازارها را آذین می بستند و نوروز و سده و مهرگان را یکجا جشن میگرفتند.

اشارات جغرافیا نویسانی که در سده های نخستین هجری راجع به سر زمین ما، خود چیزی نگاشته اند و یا از نویسندگان آن دوره نقل قول هایی دارند، مؤید این ادعا می تواند باشد.

دو دیگر اینکه نفوذ فرهنگی آریایی های مسلمان به ویژه خراسانیان در دربار های خلفای بغداد در استواری این آیین ها بی تاثیر نبوده است. حتا که خود خلفای اموی و عباسی به ویژه در عهد وزارت بر مکیان بلخ، جشن های بزرگ آریایی را با شکوه بر پا میکردند و به شیوه یی سلاله هایی قدیم آریایی هدایای نوروزی و مهرگانی را از نو رواج دادند. که هم از مردم میگرفتند و هم خود به دهش و بخشش می پر داختند. شاعران عرب در وصف نوروز و مهرگان چکامه ها و شعرهایی بسیار سروده اند که حمزه بن حسن اصفهانی (متوفی قرن ۴ هجری) همه آن ها را در کتابی به نام "اشعار السایره فی النیروز والمهرجان" گرد آوری و تدوین نموده است

ادامه دارد

بقیه از ص ۱

جبهه‌ء ملی دموکراسی افغانستان...

بعداً محترم نعیم نظری در رابطه با اهداف جبهه ملی دموکراسی افغانستان چنین گفت:

جبهه ملی دموکراسی افغانستان از حق تعیین سرنوشت ملل توسط خود شان پشتیبانی نموده و وظیفه خود میداند تا از حل منازعات جهانی و منطقه ای از طریق صلح آمیز و تامین نظم عادلانه و دموکراتیک پشتیبانی نماید. از نظر جبهه ملی دموکراسی، افغانستان با تمامی کشور های جهان و به ویژه همسایگان خود به اساس اصول همزیستی مسالمت آمیز و احترام به حق حاکمیت ملی و تمامیت ارضی همدیگر با در نظر داشت روابط متقابل و احترام متقابل دارای بهترین مناسبات میگردد.

جبهه ملی دموکراسی پابندی و پشتیبانی خود را از منشور سازمان ملل متحد، اعلامیه جهانی حقوق بشر و تمامی کنوانسیون های جهانی و میثاق های بین المللی اعلان میدارد و در راه تحقق آن مبارزه مینماید. جهت رشد و انکشاف اقتصادی کشور جبهه از اصول و سیاست حمایت از سیستم بازار آزاد و چند سکتورپشتیبانی نموده، شگوفا سازی زراعت کشور را از طریق مدرنیزه کردن آن میداند.

جبهه باز سازی تاسیسات ویران شده صنعتی و تقویت پروسه صنعتی شدن کشور را از طریق جلب سرمایه های خصوصی داخلی و خارجی و هم آهنگ سازی فکتور زراعتی و صنعتی در سر خط وظایف خود قرار داده از انکشاف صنایع دستی و پیشه وری حمایت مینماید.

به تعقیب وی قطعنامه جبهه ملی دموکراسی افغانستان به مناسبت اعلام این جبهه توسط محترم رحیم الله رامح قرائت گردید در قطعنامه آمده است:

ددی مطلب په پوهېدو سره چې زمونږ هېواد د مثبتو ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي بدلونونو په رامینځ ته کېدلو له افغان ولس سره د نړیوالې ټولنې په ملتیا په تېرو وختونو کې داسې یو فرصت د دیموکراسي پلوي خواکونو ته نه وو برابر شوی. مونږ مسلمان. ملي. مترقي او په هېواد مین خواکونه په لومړی خل د ولسواکی لپاره د ملي جبهې د ټولو خواکونو. سازمانونو. سیاسي ګوندونو. شوراګانو. ملي او خپلواکو شخصیتونو. قومي متنفذینو او روحانیونو په ګډون لاندې سپېځلو موخو ته د رسیدو په منظور خپل کړه سره تنظیموو:

_ د خمکنې بشپړتیا. ملي واکمني او خپلواکي ساتنه.

په هېواد کې د ملي یو والي تینګښت او د دیموکراسي پلي کېدل.

_ د تلپاتي سولې او د تروریزم او بنسټ پالنې پر ضد مبارزه.

_ د داسې یو نظام د راوستلو لپاره فعاله مبارزه چې د دیموکراسي د آرونو او ارزښتونو پر بنسټ ولاړ وي.

_ په سوله ایز چاپېریال کې د ښکاره سیاسي ټکې لارې تعقیبول.

_ د عمومي تاکنو له لارې د سیاسي قدرت نیول او یا په هغه کې د ګډون لپاره چمتو والي.

د اساسي قانون او بشري حقونو لپاره د سلا مشورو شوراګانې جوړول. د افغان ولس د عامه غوښتنو د تر سره کولو لپاره.

_ د وسلو راټولولو او غیر سیاسي ولسواک پوځ د جوړولو له پاره څخه ملاتړ.

_ نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ملتیا په موخه د بین المللی متوازن سیاست غوره کول.

محفل با سخنرانی آقای صبغت الله سنجر در رابطه با قدم های بعدی جبهه ملی دموکراسی افغانستان پایان یافت، محترم سنجر در قسمتی از صحبت های شان گفتند:

جبهه ملی دموکراسی افغانستان در حالیکه برنامه عمل خویش را در جهت تامین و تحکیم صلح، وحدت ملی، دموکراسی، عدالت، آزادی و رفاه مردم افغانستان ملاک عمل قرار داده است، قدم های بعدی کار خویش را در بخش های آتی متمرکز گردانیده است:

_ توسعه و استحکام سیاسی تشکیلاتی جبهه.

_ تدویر چهار کنفرانس سیاسی پیهم پیرامون قانون اساسی، قانون احزاب، ملی جرگه و انتخابات.

_ اتخاذ اقدامات سازنده و فعال در برابر حوادث سیاسی آینده کشور.

_ در رابطه به توسعه و استحکام سیاسی- تشکیلاتی جبهه ملی دموکراسی افغانستان ما خواهان:

_ تاسیس مقر جبهه با همه امکانات و تجهیزات لازمه آن.

_ تکمیل و تصویب پلاتفورم، اساسنامه و ساختار تشکیلاتی جبهه.

_ ایجاد ارگان نشراتی و نشر و پخش وسیع آن.

_ توسعه کمی و کیفی جبهه از طریق تامین ارتباط و مفاهمه با سازمان های سیاسی و شخصیت های مستقل و متنفذ ملی و جامعه جهانی و .... هستیم.

ارادہ

پیوسته به گذشته

عودت کننده گان قربانیان اصلی تبلیغات

تیمور

بناءً خوب بود اگر کمیساری های عالی سازمان ملل برای پناهنده گان با توجه به خلاهای برنامه عودت در سال ۲۰۰۲ که در آن از عوامل سیاسی، اقتصادی و خارجی مسأله اغماض صورت گرفته بود که در نتیجه ناخوشایندی های را برای اکثر عودت کننده ها، تاسرحد ندامت سبب شد، برنامه جدید مساعدت به عودت سال ۲۰۰۳ خویش را طراحی میکرد و تخصیص پولی مساعدت به عودت را که برای یکنیم میلیون نفر عودت کننده تا نه ماه آینده در نظر گرفته است در بخش های انکشافی و رفاه عودت کننده گان پیشین که تا کنون از عدم دسترسی به کمک های وعده داده شده، شاکی اند، به مصرف میرسانید. چه این پیش بینی، یک خوش بینی خواهد بود که کمیساری های عالی سازمان ملل برای پناهده گان طی سالجاری دیده به راه کم از کم بر گشت یکنیم میلیون مهاجر افغان به کشور بنیشیند.

برای جهیدن از چالش های موجود که مردم افغانستان در داخل افغانستان با آن مواجه اند قدم های عاجل عملی از جانب حکومت و جامعه امداد گر یک ضرورت مبرم تلقی میگردد که رعایت نکات آتی را لازم دارد: ازدیاد کردن مقدار پول تعهد شده برای امداد عاجل و بازسازی در کنفرانس جنوری ۲۰۰۲ توکیو و سرعت بخشیدن به در دسترس قرار دادن وجوه از نواحی که عودت صورت می گیرد، تزیید بخشیدن مساعدت مستقیم امداد کننده گان برای فعالیت های محافظوی کمیساری های عالی سازمان ملل برای پناهنده گان، در پاکستان و ایران، تزیید بخشیدن مساعدت غیر مستقیم امداد گران برای فعالیت های حفاظتی کمیساری های عالی سازمان ملل برای پناهنده گان در پیوند با تقلیل دهی بار شانه کشور های میزبان؛ ایجاد یک اداره حکومتی برای هماهنگ ساختن مساعدت ها به قربانیان خشکسالی و آواره گان داخلی، تا باشد این وظیفه بالای کمیساری های عالی سازمان ملل برای پناهنده گان نیفتد و راه اندازی پژوهش دقیق کیفی، تا سطح آگاهی را در رابطه به تصمیم گیری مهاجرین و شبکه های منطقوی و انتقالی که عاید خانواده های افغان را تداوم میدهد، بهبود بخشد.

پایان



In This Issue

1- Reports About Drugs Are Not Proved By The Responsible Commission
2- Warning Of A British Minister
3- United States To Support Afghan Water And Power Ministry
4- Think About The Reconstruction, Not Destruction
5- Democracy, People's Government
6- Why Do The Children Scare From Darkness
7- Lack Of Health Services In Afghanistan
8- Health Page
9- We Are Tired Of Investigations
10- About *Nowroz* (New Year)

ERADA Daily

ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ ۰۷۰۲۷۹۳۰۴

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan.
Mobil Phone: 070224787 / 070279304

قیمت فی شماره ۲ افغانی

زیر نظر هیأت تحریر انتشار میابد

ارادہ

د افغان دنشراتي مرکز خپرونه

مدیر مسوول: ظهور افغان
سکرتر مسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"

موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داود

اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز ودیزاین: انجینیر: محمدجمیل "امیری" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان